هفته نامه

# تحصیلات عالی

شماره تماس: ۰۲۰۲۵۰۰۳۲۵

وب سایت وزارت: www.mohe.gov.af

آدرس الکترونیکی: info.pr@mohe.gov.af

شماره یکصد و پنجاهم- سال هشتم- جدی -۱۳۹۸ه. ش


## د نصاب د تدوین او پوهنتونو د مسلکي پراختیا مرکزونو د فعالیتونو ورکشاپ جوړ شو



## چارچوب اعتباردهی برنامه های علمی پوهنتون ها از سوی شورای رهبری وزارت تحصیلات عالی مورد تائید قرار گرفت



# د نصاب د تدوین او پوهنتونو د مسلکي پراختیا مرکزونو د فعالیتونو ورکشاپ جوړ شو

په پوهنتونو کې د مسلکي پراختیا مرکزونو جوړول د استادانو د مهارتونو او وړتیاوو د لوړوالي او د هغوی د ترغیب لپاره یوه مهمه اړتیا ده.

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر پوهنمل عبدالتواب بالاکرزي دغه مطلب د یو پرزینټیشن په ترڅ کې د نصاب د تدوین او د پوهنتونو د مسلکي پراختیا مرکزونو (PDC) د فعالیتونو د تعینولو په دویمه ورځ څرګند کړ.

یاد ورکشاپ د زده کړه ییز نصاب د چمتو کولو او د (PDC) د فعالیتونو د طرزالعمل په موخه د علمي مرستیالانو او د یو شمیر پوهنتونو د (PDC) مرکزونو د آمرینو په ګډون د لوړو زده کړو پراختیایي برنامې(HEDP) په مرسته تر سره شو.

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر او علمي مرستیال وویل چې په اکاډیمیک چاپیریال کې له رهبریت څخه موخه د پوهنتونو له موخو سره د کاري ټیمونو د انرژۍ نښلول دي چې د اثر اچولو، تشویقولو او د مالکیت د حس په درلودلو سره د اړوندو منسوبینو په مینځ کې را ټوکیږي.

پوهنمل عبد التواب بالاکرزي په اکاډیمیک چاپیریال کې د مدیریت او رهبریت په څرنګوالي او د سرچینو څخه د مؤثري ګټې پورته کولو، د ټیکنالوژۍ پرمختګ ته د توجه کولو په اړه خبرې وکړې او په اکاډیمیک ډګر کې د خپلو کاري وظیفو په مختلفو مرحلو کې یې خپلې یو لړ تجربې له ګډون والو سره شریکې کړې.

نوموړي مسلک ته ژمنتیا، له موخې او خدمت په انګیزې سره د وظایفو سرته رسول د پوهنتونو موخو ته د رسیدو له عمده شرایطو څخه وبلل او ویې ویل چې د (PDC) له جوړولو څخه متوقعه پایلې، دهیواد په تحصیلي بنسټونو کې د تدریس د کیفیت ښه والي، د څیړنو د فعالیتونو، تألیف او ژباړې او د مدیریتي او رهبري مهارتونو پیاوړي کول دي.



د لوړو زده کړو سرپرست وزیر له ګډون والو څخه وغوښتل چې د کاري طرزالعمل او زده کړه ییز نصاب په جوړولو سره ددې مرکزونو لپاره په پوهنتونو کې د لوړ ظرفیت، د پیاوړي ارادې لرونکو ټیمونو د جوړولو زمینه برابره کړي.

د (PDC) د مسلکي پراختیایي مرکزونو جوړول د یو لړ موخو لکه په دولتي پوهنتونو کې د تحصیلي نصاب د پراختیا او ښه والي، پر پایلو ولاړ او د شاګرد محوري زده کړه ییز تدریس لارو په بنسټیز کولو، الیکترونیکو زده کړو پیاوړي کولو، څیړنو، رهبرۍ، د کتابتون مدیریت، استادانو، رئیس او مرستیالانو، د پوهنځیو رئیسانو، د ډیپارټمنټونو آمرینو او د پوهنتون اداري او تخنیکي کارمندانو ته د ور زده کړې له لارې له ارتباطي او معلوماتي ټیکنالوژۍ څخه د ګټې اخیستنې،لپاره دي. چې تر اوسه پورې په مختلفو پوهنتونو کې ۱۲ مرکزونه جوړ شوي او تاکل شوي چې ۲۰ نور مرکزونه په نژدې راتلونکي کې په یو شمیر نورو پوهنتونو کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

د یادولو وړ دی چې د ورکشاپ په لومړۍ ورځ د لوړو زده کړو وزارت د اکاډیمیکو چارو سلاکار پوهنوال غلام دستګیر او یو شمیر استادانو خپل پریزینټیشنونه په دې زمینه کې وړاندې کړل او بحث یې ورباندې وکړ.

د استادانو د تقرر او علمي ترفیعاتو رئیس پوهندوي فیصل امین په وینا ددې برنامې شامل پوهنتونونه د ځانګړو تفاهمنامو په امضاء کولو سره مسؤولیت لري چې ددې مراکزو د ساتنې او مراقبت په څنګ کې د هغوی د دوام لپاره علمي فعالیتونه هم ولري او دغه مراکز یوازې د هغو موخو لپاره چې په تفاهمنامه کې یاد شوي دي د ګټې وړ وګرځوي.

همدا رنګه د لوړو زده کړو پراختیایي برنامې ( HEDP) رئیس ددې دفتر د رول په اړه په پوهنتونو کې د (PDC) د۱۲ مرکزونو د جوړولو خبرې وکړې او ویې ویل چې موجوده ورکشاپ ددې مرکزونو د فعالیتونو حقوقي چوکاټ یې تر بحث لاندې نیولی دی او د هغه په اساس به دا مراکز پیل شي.

# چارچوب اعتباردهی برنامه های علمی پوهنتون ها از سوی شورای رهبری وزارت تحصیلات عالی مورد تائید قرار گرفت

چارچوب اعتباردهی برنامه های علمی، در جلسه شورای رهبری وزارت تحصیلات عالی پیشکش گردیده و مورد تأیید قرار گرفت.



جلسه شورای رهبری تحت ریاست پوهنمل عبدالتواب بالاکرزی معین علمی و سرپرست وزارت تحصیلات عالی با اشتراک معین امور محصلان، رؤسای ادارات مرکزی، رؤسای پوهنتون‌های مرکزی و مشاوران وزارت تحصیلات عالی دایر گردید.

در آغاز چارچوب اعتباردهی برنامه علمی که به منظور اعتباردهی و ارتقای کیفیت پوهنتون ها ومؤسسات تحصیلات عالی به سطح برنامه های علمی در کشور آماده گردیده از سوی ریاست ارتقای کیفیت و اعتباردهی به جلسه شورای رهبری وزارت تحصیلات عالی جهت نظر خواهی پیشکش شد ومورد تایید قرار گرفت.

پوهنمل عبدالتواب بالاکرزی معین علمی و سرپرست وزارت تحصیلات عالی تدوین چارچوب برنامه علمی را یک دستاورد مهم برای وزارت تحصیلات عالی و زمینه شگوفایی و رونق علمی در نهادهای تحصیلی خواند و با سپاسگزاری ازتلاش ریاست ارتقای کیفیت و اعتباردهی گفت که این چارچوب، فصل ناتمام برنامه های ارتقای کیفیت و اعتباردهی در نهادهای علمی را تمام می کند.



وزیر تحصیلات عالی چارچوب جدید اعتباردهی برنامه های علمی را معیاری و سازگار با معیارهای منطقه یی و جهانی عنوان نموده، گفت که اجراآت مطابق مواد مندرج آن باعث بهبود کیفیت و ارتقای اعتبار اکادمیک نهادهای علمی کشور خواهد شد.

وی افزود: "تدوین و تجدید چارچوب اعتباردهی برنامه علمی باعث تأمین کیفیت و رقابت مثبت میان نهاد های تحصیلات عالی در سطح دیپارتمنت های فارغ ده و پوهنحی ها می شود که این خود یک گام اساسی درراستای اعتبار بخشی و تقویت جایگاه پوهنتون های کشورمی باشد."



در این جلسه روی نظارت وارزیابی مجدد تعدادی از مؤسسه های تحصیلات عالی خصوصی؛ اِعمال شیوه های جدید برای اخذ امتحان محصلان پوهنتون های دولتی برای کاهش مشکلات در این روند و برخی موضوعات متفرقۀ دیگر نیز بحث صورت گرفت و راه حل های برای آن جست وجو گردید.

# لوړو زده کړو وزارت د هېواد د اساسي قانون د تصويب ملي اونۍ ولمانځله

لـوړو زده کـړو وزارت د اساســي قانــون د تصويـب ملي اونـۍ پـه لمانځغونـډه کـې د اساسي قانون پـر تطبيـق د څــار کميسـيون لــه لــوري د قانــون د حاکميت نښان تر لاسه کړ.

هغـه غونـډه چـې د اساسـي قانـون د تصويـب ملي اونـۍ د شپاړسـمې کليزې د لمانځلو پـه مناسبت پـه لوړو زده کـړو وزارت کـې جـوړه شـوې وه، د لوړو زده کـړو سرپرسـت وزيـر پوهنمـل عبدالتـواب بالاکـرزي، د محصلانـو چـارو مرسـتيال دکتـور بـري صديقـي، د اساسي قانون پر تطبيـق د څـار کميسـيون د قوانينـو د مطالعـې رئيـس دوکتور محمـد هـارون سـتانکزي، د ازموينـو ملـي اداري رئيـس عبدالقديـر خمـوش، د لـوړو زده کـړو وزارت مرکـزي رئيسـانو، د مقـام مشـاورينو او د مرکـزي پوهنتونـو مرسـتيالانو پـه کـې حضور درلود.

پـه دغـه غونـډه کـې د لوړو زده کـړو سرپرسـت وزيـر او علمـي مرسـتيال پوهنمـل عبدالتـواب بالاکـرزي د اساسـي قانـون پـر اهميـت خبـرې وکـړې او ويـې ويـل: "د افغانسـتان اساسـي قانـون د دې هيـواد دولـت او ملـت لپـاره يـوه لويـه لاسـته راوړنـه ګڼـل کيـږي او پـه عيـن حـال کـې د جامعيـت او کامليـت لـه پلـوه د سـيمې هيوادونـو د اساسـي قوانينـو پـه پرتله بې سارې دی."

د لـوړو زده کـړو سرپرسـت وزيـر زياتـه کـړه چـې د اساسي قانون د ٤٣ او ٤٦ موادو په اساس، لـوړو زده کـړو وزارت د يـو اکاډميـک بنسـټ پـه توګـه مصمـم دی چـې د قانـون د حاکميـت پـه موخـه بـه پـه تحصيلـي بنسـټونو کـې اغېزمـن پروګرامونـه پلـي او هيوادوالو ته لازمې آسانتياوې رامنځته کړي.




ښاغلي بالاکرزي د قوانينو د تطبيق او اجراآتو فرهنګ تـه پـه اشـارې سـره وويـل: "د قوانينـو د تطبيـق او اجراآتـو فرهنـګ بايـد پـه هيـواد کـې مراعـات شـي او همـدا ډول د خپلـې تېروتنـې د منلو اصل بايد په خلکو کـې عـام شـي، تـر څـو پـه راتلونکـې کـې خپلـو اشـتباهاتو ته قانوني بڼه ورکول له منځه ولاړ شي".

پوهنمل بالاکرزي د قوانينو د تطبيق او اجراآتو له املـه لـه خپلـو ټولـو همکارانـو مننـه او د دې غونـډې د جوړونکو ستاينه وکړه.

د اساسـي قانـون پـر تطبيـق د څـار کميسـيون د قوانينـو د مطالعـې رئيـس دوکتـور محمـد هـارون سـتانکزي د لوړو زده کړو وزارت له لوري د اساسي قانون د تصويب د ملـي اونـۍ لمانځنـې لـه کبلـه مننـه وکـړه او ويـې ويـل، چـې لـوړو زده کـړو وزارت او ددې وزارت دويـم واحدونـه، د قانـون د تطبيـق او حاکميـت پـه لاره کـې د اساسـي قانـون پـر تطبيـق د څـار کميسـيون لـه لوري د ممتازې اداري په عنوان وپېژندل شول.

دوکتـور سـتانکزي د اساسـي قانـون د ځانګړتيـاوو او محتوياتـو پـه اړه خبـرې وکـړې او ويـې ويـل چـې لـوړو زده کـړو وزارت د اساسـي قانون او ددې وزارت داخلـي قوانينـو پـه تطبيـق او اجراآتـو کـې بـر لاسـی دی او پـه همـدې اسـاس دې کميسـيون د اساسـي قانـون د حاکميـت ميناتـوري شـوی نښـان ددې وزارت رهبري هيئت ته په نظر کې نيولی دی.

پـه دغـه غونـډه کـې د کابـل طبـي علومـو پوهنتـون علمـي مرسـتيال پوهانـد دوکتور نجيب الله امرخيـل د اساسـي قانـون پـه رڼـا کـې د روغتيايـي خدمتونـو پـه اړه او د لـوړو زده کـړو وزارت د جنـډر سـلاکارې دوکتـور عايشـه نـورزۍ د افغاستان پـه حقوقـي نظام کې د ښځو د مقام په اړوند خبرې وکړې.

د غونډې پـه پـای کـې د اساسـي قانـون پـر تطبيـق د څـار کميسـيون اسـتازي د لـوړو زده کـړو سرپرسـت وزيـر پوهنمـل عبدالتـواب بالاکـرزي او د محصلانـو چـارو مرسـتيال دکتـور بـري صديقـي تـه د وزارت د رهبـري هيئـت پـه اسـتازيتوب د قانـون د حاکميـت نښان ډالۍ کړ.

# نشستی سرپرست وزارت تحصیلات عالی با مسوولان به منظور رفع مشکلات لیلیه های پوهنتونها

به منظور بهبود وضعیت لیلیه ها به ویژه لیلیه های مرکز و رسیدگی بهتر به خواست های معقول محصلان شامل لیلیه ها امروز نشستی تحت ریاست پوهنمل عبدالتواب بالاکرزی معین علمی و سرپرست وزارت تحصیلات عالی دایر شد.

در این نشست پوهاند دکتور بری صدیقی معین امورمحصلان، پوهنمل حمیدالله فاروقی رییس پوهنتون کابل و مشاور ریاست جمهوری در امور تحصیلات عالی، تعدادی از رؤسای ادارات مرکزی وزارت تحصیلات عالی، آمرین لیلیه های مرکز، و دو تن از نمایندگان محصلان شامل لیلیه های اناث و ذکور اشتراک ورزیدند.

پوهنمل عبدالتواب بالاکرزی گفت، که لیلیه ها به مثابه مراکز استقرار محصلان نیازمند، جهت پیشبرد امور تحصیلی شان بوده و باید تمام امکانات و سهولت های لازم جهت آرامش روانی و آماده سازی آنان برای کسب بهتر علم و دانش مهیا گردد.

سرپرست وزارت تحصیلات عالی در این نشست گزارشات مسوولان لیلیه های مرکز در مورد چگونگی وضعیت لیلیه های یاد شده و همچنان خواست ها و پیشنهادات نمایندگان محصلان شامل این لیلیه ها را استماع نموده توجه به ارزش های اسلامی، فرهنگ افغانی و مصئونیت امنیتی را از موارد جدی خواند که باید در لیلیه ها بیشتر روی آن تمرکز صورت گیرد.

پوهنمل بالاکرزی به ریاست های مربوطه هدایت داد تا با تمام امکانات، نیازمندی های محصلان لیلیه ها را در بخش های مختلف اعاشه، اباته، ورزش، سالون مطالعه، کانتین، انترنت و کمک های اولیه صحی مرفوع ساخته و برای تامین نظم و دسپلین در لیلیه ها روی یک میکانیزم دوامدار بررسی از لیلیه ها و تدوین طرزالعمل های مشخص کار شود.



سرپرست وزارت تحصیلات عالی تدویر برنامه های فرهنگی و ورزشی را در تقویت فرهنگ زندگی در لیلیه ها و رفع انواع مشکلات روانی و افسردگی ها موثر خوانده از مسوولان مربوط خواست تا در همکاری با نمایندگان محصلان لیلیه ها برنامه های را در زمینه راه اندازی نمایند.

پوهنمل بالاکرزی پیشنهادات مسوولان لیلیه ها را در رابطه به افزایش تشکیل لیلیه ها جهت بهبود امور خدماتی مورد تائید قرار داده گفت که تلاش های جدی صورت گیرد تا تمام کارمندان خدماتی در لیلیه های دختران، اناث باشند.



معین علمی و سرپرست وزارت تحصیلات عالی با تاکید به نقش خود محصلان در بهبود وضعیت لیلیه های شان هدایت داد تا یک هیات از نمایندگان محصلان، روسا و مسوولان ادارات ذیربط تحت ریاست رئیس اداری و زیربنا های وزارت تحصیلات عالی ایجاد گردد و وضعیت لیلیه های مرکز را مجدداً مورد بررسی قرار دهند و در پرتو آن آمادگی های لازم را قبل از آغاز سمستر بهاری داشته باشند. این هیات قرار است گزارش شان را در جلسه هفته آینده ارائه نموده و راه های حل را جهت رفع مشکلات پیشنهاد نمایند و در نهایت یک مودل مشخص برای بهبود وضعیت لیلیه های مرکز و ولایات تهیه گردیده و تطبیق گردد.

# سرپرست وزارت تحصیلات عالی از استاد پوهنتون کابل که از سوی دزدان مسلح هدف گلوله قرار گرفته بود، عیادت به عمل آورد

سرپرست وزارت تحصیلات عالی از پوهنیار محمد رفیع بنایی استاد پوهنتون کابل که از سوی دزدان مسلح هدف گلوله قرار گرفته بود، عیادت به عمل آورد.



پوهنیار محمد رفیع بنایی استاد رشته روانشناسی پوهنتون کابل، حین رفتن به سوی پوهنتون مورد حمله دزدان مسلح قرار گرفته واز ناحیه سینه زخم برداشته است.

پوهنمل عبدالتواب بالاکرزی سرپرست وزارت تحصیلات عالی ضمن ابراز تاسف از این رخداد ناگوار برای استاد شفای عاجل و کامل استدعا نموده و از دکتوران معالج در شفاخانه علی آباد جهت رسیدگی به موقع درمان وی، سپاسگزاری کرد.

وزیر تحصیلات عالی هدف قراردادن شهروندان به ویژه استادان را رفتار جاهلانه خواند که از سوی افراد اوباش انجام می شود. وی از ارگان‌های عدلی و قضای خواستار توجه بیشتر و رسیدگی به این گونه قضایا شد.



سرپرست وزارت تحصیلات عالی از نیروهای امنیتی خواست تا در راستای تامین امنیت استادان، محصلان و نهادهای علمی تلاش جدی نمایند.

# ۲۰۴ تن انجنیران از پوهنتون پولی تخنیک کابل فارغ شدند

پوهنتون پولی تخنیک کابل ۲۰۴ تن از انجنیران جوان را که شامل ۳ رشته تخصصی کمپیوتر ساینس و یک رشته GIS پوهنځی جیوماتیک و کدستر می باشند، به جامعه تقدیم نمود.



محفلی که به این مناسبت در پوهنتون پولی تخنیک کابل با حضورداشت هیئت رهبری، استادان محصلان و خانواده های فارغان یاد شده برگزار گردید، سخنرانان ضمن ابراز مراتب تبریکی به انجنیران فارغ شده، از آنان خواستن تا در بازسازی و نوسازی کشور شان سهم فعال داشته و مسوولیت های شان را در قبال مردم و جامعه خویش ادا نمایند.

# د لوړو زده کړو سرپرست وزیر له استاد سلیمانزي سره، چې د وسله والو غلو لخوا سخت ټپي شوی و ولیدل

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر پوهنمل عبدالتواب بالاکرزي له استاد حبیب الله سلیمانزي سره، چې د وسله والو غلو لخوا سخت ټپي شوی و ولیدل.



پوهنمل عبدالتواب بالاکرزي په دې لیدنه کې د وسله والو غلو لخوا د اکاډمیکې ټولنې پر استادانو دا ډول بریدونه د غندنې ترڅنګ د اندېښنې وړ وبلل.

د خوست شیخ زاید پوهنتون د معلوماتي ټکنالوژۍ ډیپارټمنټ استاد پوهنیار حبیب الله سلیمانزی تېر ماښام د کابل په میوند جاده کې د غلو لخوا تر برید لاندې نیول کیږي او د مخ او سر په برخه کې سخت ټپي کیږي.

د شیخ زاید پوهنتون دغه استاد د خپلو اسنادو د پروسس په موخه کابل ته راغلی و او ټاکل شوې وه، چې د دکتوار په کچه د لوړو زده کړو په موخه چین ته ولاړ شي، خو په یاده پېښه کې د زخمي کېدو تر څنګ خپل کمپیوټر او موبایل له لاسه ورکوي او تحصیلي اسناد یې هم د غلو لخوا څیرې کیږي.



د لوړو زده کړو سرپرست وزیر او علمي مرستیال پوهنمل عبدالتواب بالاکرزي استاد سلیمانزي سره د همدردۍ ترڅنګ نوموړي ته د عاجلې شفا غوښتنه وکړه او وعده یې ورکړه چې د اسنادو په دویم ځلي ورکړه کې به ورسره مرسته وکړي.

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر له امنیتي ارګانونو څخه د هېوادوالو او په ځانګړې توګه د استادانو او محصلانو د امنیت په ساتنه کې د بشپړې پاملرنې غوښتونکی شو.

د یادولو وړ ده، چې څو ورځې وړاندې د کابل پوهنتون استاد محمد رفیع بنایی هم د وسله والو غلو لخوا د دغه ډول برید لاندې راغلی و.



# ویدیو کنفرانس مشاور مقام وزارت تحصیلات عالی با هیات رهبری موسسه تحصیلات عالی هلمند

مشاور تحقیقات علمی وزارت تحصیلات عالی طی ویدیو کنفرانس نشست آگاهی دهی پیرامون افزایش کمی و کیفی تولیدات علمی با در نظرداشت شاخص های علم سنجی را با هیئت رهبری موسسه تحصیلات عالی هلمند و نهاد های خصوصی آن ولایت دایر نمود.



در این ویدیو کنفرانس دکتور محمد وسیم اقبال مشاور تحقیقات علمی وزارت تحصیلات عالی در رابطه به مکانیزم تولید علم (ملی و بین المللی)، انواع دیتابیس های نمایه استنادی (Citation Index Database) ، وضعیت فعلی تولیدات علمی افغانستان براساس شاخص های جهانی علم سنجی، راهکارهای ایجاد و ارتقای ژورنال های علمی و تقویت تولید علم و تسریع فرایند پژوهش با معیار های بین المللی را با هییت رهبری پوهنتون هلمند و نهاد تحصیلات عالی خصوصی آن ولایت در میان گذاشت.



مشاور وزارت تحصیلات عالی تقویت تولید علم را یکی از نیازهای اساسی و جدی جامعه علمی افغانستان عنوان کرد و گفت که راهکارهای حمایت از تولیدات علمی در سطح پوهنتون های دولتی و خصوصی روی دست است و وزارت تحصیلات عالی با جدیت به دنبال تغییر مثبت در حوزه تحقیقات علمی در پوهنتون ها می باشد.

موصوف علاوه نمود که پوهنتون های کشور با تکثیر دانش مبتنی بر نتیجه، در چوکات پلان انکشافی و با ایجاد ژورنال های بین المللی و پژوهش پروری می توانند جایگاه علمی کشور را در سطح ملی، منطقوی و بین المللی تثبیت نمایند.

دکتور اقبال همچنان از اشتراک کنندگان خواست تا برای مراحل نخستین ایجاد ژورنال های بین المللی نهاد های شان را آماده نمایند.

هییت رهبری موسسه تحصیلات عالی هلمند و نمایندگان موسسات تحصیلات عالی خصوصی آن ولایت، ضمن تشکری از راهنمایی های مشاور مقام وزارت، در رابطه به ایجاد ژونال علمی بین المللی، آمادگی های شان ابراز داشتند.




قابل یاد آوری است که پیش از این نشست¬ های آگاهی دهی ایجاد و ارتقای ژونال علمی بین المللی در پوهنتون های کابل، علوم طبی، تعلیم و تربیه شهید استاد ربانی، پولی تخنیک کابل، هرات و کندهار نیز دایر گردیده است.

# موسسه تحصیلات عالی لوگر از شانزدهمین سال تصویب قانونی اساسی کشور بزرگداشت بعمل آورد

محفلی که به این مناسبت در تالار قانون اساسی مقام ولایت لوگر برگزار شد، معاون مقام ولایت لوگر، رییس، استادان و کارمندان موسسه تحصیلات عالی لوگر، مسوولین ارگان های امنیتی، شماری از مسوولین ادارات مختلف این ولایت، علما و متنفذین شرکت نموده بودند.



در محفل یاد شده سخنرانان ضمن تاکید بر تطبیق مواد قانون اساسی در کشور، قانون اساسی افغانستان را در سطح منطقه قانون جامع و بی بدیل عنوان نمودند.

پوهنمل عبدالناصر"ستانکزی" رئیس مؤسسه تحصیلات عالی لوگر پیرامون اهمیت قانون اساسی، حقوق و وجایب اتباع در قانون اساسی کشور صحبت نموده گفت:" قانون اساسی عالی ترین سند حقوقی یک کشور می باشد که سایر قوانین در مطابقت به آن تنظیم می گردد".

تورن جنرال محمد نبی احمدزی معاون مقام ولایت لوگر در رابطه به مواد قانون اساسی و تطبیق آن صحبت نموده بر عملی نمودن تمام ماده های آن تآکید ورزید.

همچنان رئیس څارنوالی استیناف و رئیس ارشاد، حج و اوقاف ولایت لوگر در مورد قانون اساسی و قوای سه گانه کشور معلومات همه جانبه ارایه نمودند.

وی اضافه کرد قانون اساسی کشور ما جزء بهترین قانون های شناخته شده در منطقه است که نقاط قوت خوبی دارد و با تطبیق همه جانبه آن بسیاری از مشکلات جامعهء ما رفع می گردد.

نصرالله واعظی رئیس شورای علمای بامیان؛ پیرامون قانون اساسی و ارتباط آن با قوانین شرعی پرداخته اظهار داشت که مواد قانون اساسی فعلی کاملاً اسلامی است و هیچ نکته تضادی در برابر قانون شرعی در آن دیده نمی شود.

# از شانزدهمین سالروز تصویب قانون اساسی کشور در پوهنتون بامیان گرامیداشت بعمل آمد

در محفلی که به این مناسبت در پوهنتون بامیان برگزار شد؛ هیئت رهبری پوهنتون بامیان، روئسای پوهنځی ها، اساتید، کارمندان اداری، جمعی از محصلان، رئیس شبکه جامعه مدنی و حقوق بشر بامیان و رئیس شورای علمای ولایت بامیان اشتراک داشتند.

پوهنمل عبدالعزیز محبی رییس پوهنتون بامیان در رابطه به تاریخچه تصویب قانون اساسی و اهمیت آن صحبت نموده گفت، که قانون اساسی عالیترین سند حقوقی هر کشور است که ساختار نظام سیاسی و صلاحیت های قوه مقننه، مجریه و قضائیه را بیان می دارد



همچنان در این محفل پوهنمل محمد رضا ابراهیم معاون امور محصلان؛ در مورد اهمیت و جایگاه قانون اساسی در درون جوامع بشری و افغانستان، اسماعیل ذکی رئیس شبکه جامعه مدنی و حقوق بشر بامیان؛ روی بررسی تضمین آزادی های فردی و اجتماعی در قانون اساسی و پوهنمل محمد ابراهیم ذکی؛ در رابطه به بررسی حقوق زنان در قانون اساسی و قوانین شرعی صحبت نمودند.